**د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

**موضوع:** د افغانستان بانک د تادیاتو سیستم او معلوماتي ټکنالوژۍ آمریتونو لپاره د آی ټی تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروژه د کیهان نشنل لمیتد شرکت ته د تړون ورکولو د پریکړۍ خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې : د افغانستان بانک د تادیاتو سیستم او معلوماتي ټکنالوژۍ آمریتونو لپاره د آی ټی تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروژه د کیهان نشنل لمیتد شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 8932-0101 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې صدارت څلور لاری کابل کې دی. د تړون ټولیزه بیه/ 980,000– نهه سوه او اتیا زره افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اووو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 0093(20)2100305/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایټwww.dab.gov.af